# خبري خپرونه

اړیکي:
نړیوال بانك په کابل کی: عبدلرووف ضیأ
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)
Azia@worldbank.org

نړیوال بانك
له بي وسی، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلي ځلي

## د برېښنا د لېږد د پروژې تړون چې مرکزي آسیا له سهیلي آسیا سره نښلوي په کابل کې لاسلیك شو

**کابل، د نومبر ۱۹ مه، ۲۰۰۷ میلادی کال:** د روان کال د نوامبر د میاشتې په ۱۶ مه نېټه، د مرکزي اسیا څخه سهیلي آسیا ته د برېښنا د لېږلو د پروژې تړون په کابل کې وشو چې ارزښت یې ۵۰۰ میلیونه ډالرو ته رسیږي. دا پروژه به په لمړۍ مرحله کې کابو ۱۳۰۰ مېګاواټه برېښنا د تاجکستان او قرغزستان له جمهوریتونو څخه پاکستان او افغانستان ته ولېږدوي. مرکزي آسیا د اوبو د برېښنا پرېمانه سرچینې او موسمي انرژي لري چې کولای شي پاکستان او افغانستان ته په اقتصادي توګه برېښنا ورکړي.

د مرکزی او سهیلی آسیا د برېښنا د سیمه ایيز بازار (CASAREM) دریم کنفرانس د روان کال د نوامبر د میاشتې د ۱۴ مې څخه تر ۱۶ مې نېټې پورې په کابل کې جوړ شو. مخکې کنفرانسونه یې د دوشنبې او اسلام آباد په ښارونو کې جوړ شوي وو. د کابل د غونډې ګډون کوونکوو هغه راپورونه چې د تخنیکي او اقتصادي امکاناتو او د پروژې د اداري چارو په هکله د آسیا د پراختیایی بانك او نړیوال بانك له خوا لیکل شوي وو، وکتل.

د نوموړي کنفرانس غړو یانې د قرغزستان، تاجکستان، پاکستان او افغانستان هیوادونو د خپلې درۍ ورځنۍ غونډې په پایله کې د نوموړې پروژې د وړاندې تګ په هکله مهمې پرېکړې وکړې چې په پایله کې به وکولای شي د مرکزي آسیا د انرژي د سرچینو د ډېرې پراخې ودې او د سهیلي آسیا سره د برېښنا د سوداګرۍ د ډېرښت لامل وګرځي.

څلورو واړو هیوادونو د نوموړي کانفرانس په پایله کې د یوه تفاهم لیك په لاسلیك کولو سره ددې پروژې د پلې کېدو او کاري حدونو پخلۍ وکړ چې د هغې په واسطه به د لوړ ولتاژ درلودونکې مستقیم جریان د لېږد سیستم د ۷۵۰ کیلومتره واټن په درلودلو سره د تاجکستان او پاکستان په منځ کې جوړ او له افغانستان څخه به تېر شي. همدارنګه د مستقیم جریان د بدلونې ستېشن به په کابل کې وي او د قرغزستان د جمهوریت او تاجکستان د هېواد تر منځ به د متناوب جریان لین جوړ شي ترڅو د هغه هېواد برېښنا د تاجکستان له لارې سهیلي آسیا ته ولېږدوي. نوموړی تفاهم لیك به ددې سوداګرۍ د سرته رسولو اداري او حقوقي چوکاټ هم وټاکي. همداراز، ټولو خواوو موافقه وکړه ترڅو د دولتونو تر منځ یې د پالیسۍ د نظارت لپاره یوه شورا جوړه کړي او اړونده سکرتریت یې د پروژې لاړیاتې پراختیا په هکله د مرستندویه چارو لپاره وټاکي او کابل یې د سکرتریت د ځای لپاره غوره کړ.

یادو شوو هېوادونو نړیوالو مالي سازمانونو لکه آسیایی پراختیایی بانك، اسلامی پراختیایی بانك او نړیوال بانك ته مراجعه وکړه ترڅو ددې پروژې تمویل په پام کې ونیسي. نړیوال بانك ددې نوښت څخه ملاتړ کوي او هغه د سیمه اییز یو موټي کېدو  او د ټولو هېوادونو په ګټه د همکارۍ لپاره یو اغېزمن ګام ګڼي.

*" ددې لپاره چې سهیلي آسیا د مرکزي آسیا اقتصادي او پاکو سرچینو ته لاس رسی ولري، د دې پروژې د پلي کېدو په هکله د نوموړيو څلور ګونو هېوادونو همکاري یو مهم ګام دی."* دا **مطلب الاستیر مکیچنی چې په افغانستان کې د نړیوال بانك رییس** دی، یاد کړ او وویې ویل چې: *"مونږ تمه لرو چې دا پروژه به د مرکزي آسیا خورا بېوزله هېوادونو ته عواید وریه برخه کړي او افغانستان او پاکستان ته به د اقتصادی بربښنا په ورکولو سره به د انرژي کمښت، لږ کړي او همدارنګه  افغانستان ته د پام وړ اقتصادي ګټې ورسیږي. دا پروژه ثابتوي چې نوموړي هېوادونه د خپلو اقتصادي ګټو په ډګر کې په همکارۍ سره کولای شي چې په مقابله توګه ګټه ترلاسه کړي. "*

په افغانستان کې د نړیوال بانك د چارو په هکله د لازیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لاندې انټرنټي پاڼه کتلای شی.

http://www.worldbank.org.af